# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

(خبرپاڼه)

ګڼه: ۱۰

نېټه: ۱۴۰۳/۱۱/۲۵



د افغانستان د اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) د افغانستان تر ټولو مهم او وروستي اقتصادي پرمختګونه منعکسوي.

د دې خبر پاڼې په لوستلو سره چې په درېیو ژبو (پښتو، دري، انګلیسي) خپرېږي، تاسو کولی شئ د افغانستان له وروستیو اقتصادي پرمختګونو څخه خبر شئ.

## په دې ګڼه کې لولئ:

۱- مېدان وردګو د چک برېښنا بند چارې اویا سلنه بشپړې شوې

۲- مېدان وردګو کې د ۲۰۰ میلیون ډالرو په لګښت د اوسپنې ویلې کولو فابریکه جوړېږي

۳- د هرات-کندهار تر منځ د رېل پټلی د ډیزاین چارو د قرارداد لاسلیک

# مېدان وردگو د چک برېښنا بند چارې اویا سلنه بشپړې شوې



د مېدان وردگو ولایت په چک ولسوالۍ کې د چک برېښنا بند چارې نږدې اویا سلنه بشپړې شوې دي. د قراردادي شرکت مسوولینو ویلي، د کابل پخوانۍ اداري پر مهال د مالي او مدیریتي ستونزو له امله د یاد بند چارې نیمگړې پاتې وې، خو اسلامي امارت د یاد بند د بیا رغونې چارو له پاره په ۱۴۰۲ کال کې بودیجه منظور کړه او د بند پاتې چارې بیا پیل شوې.

تر اوسه د چک بند عمده او مهم کارونه ترسره شوي. د بېلگې په ډول ساحې ته د درې توربینونو او والونو انتقال، د کاسې رسوباتو انتقال، د توزیعي شبکې له پاره د ۵۸ ترانسفرمونو او کېبلونو انتقال، د کانکریټي پایو انتقال او د میترباکسونو د انتقال په گډون د پروژې گڼ کارونه ترسره شوي دي.

د توربینونو نصبول، د فلشنگ سیستم، د کانکریټي جوړښتونو ترمیم، د شاوخوا ٦۰۰ کانکریټي پایو تولید او انتقال، د ABC کېبل تولید، انتقال او غځونې په گډون ځینې نور کارونه پاتې چې لنډ وخت کې به یې چارې بشپړې او پروژه به گټې اخیستنې ته وسپارل شي.

یاد برېښنا بند څه کم څلور مېگا واټه برېښنا تولیدوي. د یاد بند له پرانیستې سره به د سیمې د خلکو د برېښنا ستونزه حل شي.

اسلامي امارت په هېواد کې د هغو ټولو کوچنیو او متوسطو بندونو ارزونه کړې چې چارې یې نیمگړې پاتې او پلان لري چې چارې یې بشپړې کړي. په دې اساس په هېواد کې د ځینو بندونو چارې بشپړې او گټې اخیستنې ته وسپارل شول او د یو شمېر نورو کوچنیو او متوسطو بندونو د جوړېدو او بیارغونې چارې په چټکۍ سره روانې دي.

# مېدان وردگو کې د ۲۰۰ میلیون ډالرو په لگښت د اوسپنې ویلې کولو فابریکه جوړېږي

د مېدان وردگو ولایت مسوولینو ویلي، یو هندي پانگوال او یو خصوصي شرکت غواړي په یاد ولایت کې د ۲۰۰ میلیون ډالرو په لگښت د اوسپنې د ویلي کولو یوه فابریکه جوړه کړي.

هندي پانگوال او خصوصي شرکت د مېدان وردگو د ولایت له والي ښاغلي بختیار معاذ سره کتلي او تمه ده راتلونکې کې د یاد ولایت د مرکز اړوند کوټه عشرو سیمه کې د اوسپنې ویلي کولو فابریکه جوړه کړي.

هندي پانگوال او د خصوصي شرکت مسوولینو ویلي چې دوی به د نړیوالو معیارونو مطابق اوسپنه پروسس او په ورځیني ډول به ۱۲،۵ ټنه اوسپنه تولید کړي.

اسلامي امارت د نورو سکټورونو تر څنگ د اوسپنې صنعت ته ډېره توجه کړې ده. په کابل کې د اوسپنې ویلي کولو او گول سیخونو تولید فابریکې فعالیت کوي چې په ورځیني ډول لسگونه ټنه تولید لري.

اوسمهال افغانستان په دې سکټور کې ځان بسیاینې ته نږدې دی او گاونډیو او د سیمې هېوادونو ته د افغانستان تولید اوسپنه هم صادرېږي.



اسلامي امارت د اوسپنې د ویلي کولو فابریکو د ملاتړ په موخه له هېواده د اوسپنې په قاچاق بندیز لګولی او د اوسپنې قاچاق کوونکو ته یې سختې سزاګانې ټاکلې دي.
داګام د هېواد د صنعت د پیاوړي کېدو له پاره مهم و، څو فابریکو ته ارزانه خام مواد په لاس ورشي.
افغانستان د اوسپنې ډېر نااستخراج شوي کانونه لري او اسلامي امارت هڅه کړې چې د هېواد کانونه د ځان بسیاینې او اقتصادي ودې په موخه استخراج او پروسس کړي.

# د هرات-کندهار تر منځ د رېل پټلۍ د ډیزاین او طرحې د قرارداد لاسلیک

د ټولګټو چارو وزارت وايي، د هرات او کندهار تر منځ د رېل پټلۍ د ډیزاین او طرحې په اړه یې له پینځو شرکتونو سره د ۲۴۶ میلیون افغانیو په ارزښت قراردادونه لاسلیک کړل.
د قراردادونو پر بنسټ، شرکتونه به د ۷۳۷ کیلو متره رېل پټلۍ تفصیلي سروې کوي او دا کار به په اتو میاشتو کې بشپړوي. د ډیزاین او طرحې له بشپړېدو وروسته به د دغې رېل پټلۍ د جوړولو عملي چارې پیل شي.
افغانستان اوسمهال شاوخوا ۲۵۰ کیلومتره رېل پټلۍ لري، چې هېواد یې له ایران، ترکمنستان او ازبیکستان سره نښلولی دی.
د هرات- خواف رېل پټلۍ یوه مهمه رېل پټلۍ ده چې افغانستان له نړیوال مارکیټ سره نښلوي او په راتلونکي کې به د افغانستان ډېره رېلي سوداګري له همدې لارې ترسره شي. اوسمهال د هرات- خواف رېل پټلۍ د څلورم فاز چارې روانې دي چې نږدې راتلونکي کې به بشپړې شي.
د رېل پټلۍ غځول د هېواد د اقتصادي ودې له پاره ډېر مهم دي. د رېل پټلۍ له لارې سوداګري ارزانه پرېوزي او ډېر کاري فرصتونه هم ایجادوي.

